مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۹۵** (از ۱۵ الی ۲۲ قوس ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

**اداري فساد نوي حکومت ته ستره ننګونه**

- په افغانستان کې اداري فساد ته لنډه کتنه ........ ۴
- د افغانستان د شفافيت څار اداري سروې ګانې ........ ۴
- له فساد سره د مبارزې او بشري حقونو نړيوالې ورځې ........ ۶
- د فساد پر ضد د اشرف غني کړنلاره ........ ۷
- د کابل بانک قضيه ........ ۷
- حل لارې ........ ۸

**امریکا؛ جنگ و معیارهای دوگانه**

- تحلیلی از سپردن لطیف الله محسود به پاکستان ........ ۱۰
- افغانستان میدان بازی است نه شریک بازی! ........ ۱۱
- لطیف الله محسود چگونه ربوده شد؟ ........ ۱۲
- وقایع بعد از این دستگیری ........ ۱۲
- نتیجهٔ سپردن لطیف الله محسود به پاکستان ........ ۱۳

## مقدمه

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې په افغانستان کې د اداري فساد د وضعیت، د اداري فساد په اړه د وروستیو خپرو شوو راپورونو او سروې ګانو او د اداري فساد په اړه د نوي افغان حکومت د تګلارې او همدا راز د امریکایي ځواکونو له خوا پاکستان ته د لطیف الله محسود د سپارلو او د دې سپارنې د پایلو په تړاو د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز، د څېړنیزې څانګې شننې لولئ.

په تېرو کلونو کې، په ځانګړي ډول پر افغانستان د نړیوالو ځواکونو له یرغل وروسته، د نړیوالو ادارو په سروې ګانو کې افغانستان تل د اداري فساد له مخې په لومړیو مقامونو کې ځای لري او هر کال دغه کچه مخ په زیاتېدو وي؛ خو سږ کال د شفافیت د نړیوالې ادارې د سروې له مخې څلورم مقام ته راټیټ شوی دی.

دغه راز څو ورځې وړاندې د پاکستاني طالبانو د پخواني مشر حکیم الله محسود مرستیال لطیف الله محسود، چې په ۲۰۱۳ کال کې په لوګر ولایت کې د امریکایي ځواکونو له خوا ونیول شو، پاکستان ته وسپارل شو. د دې سپارنې په اړه افغان دولت هم غبرګون وښود او دا یې د افغانستان د ملي حاکمیت تر پښو لاندې کول وبلل.

دا چې په افغانستان کې د اداري فساد مخینې ته په کتو سره، د اداري فساد وضعیت په کوم لوري روان دی؟ افغانستان ته د نړیوالو بسپنه ورکوونکو په مرستو څومره اغېز ښندي؟ او په دې اړه د اشرف غني تګلاره څه ډول ده؟ همدا راز پاکستان ته د لطیف الله محسود د سپارلو تر شا کومې انګېزې پرتې دي؟ هغه موضوعات دي چې دلته یې د شننو تفصیل لولئ:

## اداري فساد نوي حکومت ته ستره ننګونه



که اقتصادي پرمختګ، د جګړې پای ته رسول او د سولې ټینګښت د اشرف غني لومړیتوبونه دي، اداري فساد هم د ده د حکومت لپاره ستره ننګونه ده. اشرف غني له خپل راتګ سره سملاسي د جګړې د ختمولو او د سولې او ثبات د ټینګښت په اړه هلې ځلې پېل کړې. ښاغلي غني د لندن په کنفرانس کې د اداري فساد پر ضد خپله تګلاره هم تر یوه بریده روښانه کړه؛ ځکه اداري فساد د هېواد د هراړخیز پرمختګ په لاره کې ستر خنډ بلل کېږي او تر ټولو مهمه خبره پکې دا ده، چې بسپنه ورکوونکو هېوادونو خپلې مرستې د اداري فساد له ختمولو سره تړلې دي[1].

د شفافیت نړیوالې ادارې[2] د نوي کلني راپور له مخې، افغانستان په ۲۰۱۴ کال کې د نړۍ په کچه په اداري فساد کې څلورم مقام خپل کړی. د دغې ادارې د څېړنیز مېتود له مخې هرڅومره چې د یوه هېواد امتیازونه کم وي، هومره به په فساد کې زیات ښکېل وي. افغانستان دا ځل له ۱۰۰ امتیازونو څخه د ۱۲ امتیازونو په ترلاسه کولو سره په ۱۷۵ هېوادونو کې ۱۷۲مه رتبه ګټلې او له سومالیې، شمالي کوریا او سوډان څخه په شفافیت کې مخکې دی.

[1] - نړیوالو مرسته کوونکو په 2012 کال کې د توکیو په کنفرانس کې د خپلو مرستو لپاره د اداري فساد ختمول شرط کېښود.

[2] Transparency International

## په افغانستان کې اداري فساد ته لنډه کتنه:


پر افغانستان د امريکايي يرغل او د ډېموکراسۍ د تجربې يو اغېز هم اداري فساد و. کله چې امريکايي او ناټو ځواکونه افغانستان ته راغلل، ورسره پرېمانه پيسې هم له بېلابېلو لارو افغانستان ته راروانې شوې، چې ورسره د حساب ورکونې کومه اغېزمنه تګلاره هم موجوده نه وه. له همدې کبله اداري فساد د هېواد ډېرى سکتورونو ته خپور شو. د فساد نور عوامل هم د دولتي مامورينو کمې تنخواوې، د ځواب ورکونې د فرهنګ نشتوالی، خپله د اداري فساد ضد ادارو کې د اداري فساد شتون، ناامنی، د دولتي څوکيو پېر او پلور او داسې نور بللی شو.

په افغانستان کې د اداري فساد پر ضد ځينې قوانين[3] هم وضع شوي او د اداري فساد پر ضد يو شمېر اداري هم جوړې شوې دي[4]؛ مګر له دغو هڅو سره سره، نه يوازې دا چې په هېواد کې د اداري فساد کچه راټيټه شوې نه وه، بلکې ورځ تر بلې لوړېږي هم.

د افغانستان د روڼتيا څار اداري[5] هم په تېرو کلونو کې د اداري فساد په اړه ځلور سروې ګانې کړې دي، چې هر دوه کلونه وروسته خپرېږي، د دغو ځلورو سروې ګانو پايلې په دې ډول وې:

## د افغانستان د شفافيت څار اداري سروې ګانې:

د افغانستان د روڼتيا څار اداري په افغانستان کې د اداري فساد په اړه ځلور سروې ګانې کړې دي؛ لومړۍ سروې يې په ۲۰۰۷ کال کې، دويمه يې په ۲۰۱۰ کال کې، دربيمه يې په ۲۰۱۲ کال کې او ځلورمه يې هم په ۲۰۱۴ کال کې ترسره کړې ده. دغه اداره هر دوه کلونه وروسته د فساد په اړه سروې او څېړنې کوي.




**لومړۍ سروې:** دغې اداري په لومړي ځل په ۲۰۰۷ کال کې يوه سروې وکړه، ترڅو معلومه کړي چې افغانان څه ته اداري فساد وايي؟ د دوی په اند عوامل يې څه دي؟ او د حل لارې يې کومې دي؟

---

[3] د اداري فساد پر ضد د مبارزې میثاق؛ معلوماتو ته د لاسرسي قانون؛

law on overseeing the implementation of the Anti-Administrative Corruption Strategy

[4] High office of oversight and Anti-Corruption

[5] Integrity Watch of Afghanistan

د همدې سروې له مخې په افغانستان کې اداري فساد یوه داسې خپره شوې ستونزه وبلل شوه، چې ټول سکتورونه او عامه اداري یې تر اغېز لاندې راوستي دي او د ډېرى پوښتل شوو په اند، دا ستونزه اوسمهال د افغاني ټولنې یوه برخه ګرځېدلې ده. په دغه کال کې په افغانستان کې تقریباً ۴٦٦ ملیون ډالره رشوت ورکړل شوى و.

د دې څېړنې له مخې فساد هغه څېز ته ویل کېږي، چې یو څوک خپل منصب د شخصي او یا ډله ییزې ګټې لپاره وکاروي. د فساد عوامل چې په دې سروې کې په ګوته شوي وو په دې ډول وو:

- د دولتي کارکوونکو ټیټې تنخواوې
- حرص
- د ځواب ورکونې او معلوماتو ته د لاسرسي قانون نشتوالى
- د فساد منحوس څرخ یا د منصبونو پېر او پلور[6] او داسې نور.

په دې څېړنه کې د فساد د مخنیوي لپاره تر لاندې پوړونو پورې د ځواک او واک وېشل، سختې سزاوې او د دیني علماوو، مطبوعاتو او مدني ټولنو متحرکول د حل لاره بلل شوې وه.

**دویمه سروې:** د افغانستان د روڼتیا اداري د ۲۰۱۰ کال د راپور له مخې، د بې‌ثباتۍ او وزګارتیا ترځنګ اداري فساد د افغاني ټولنې درېیمه سره ستونزه وه او په اوو کسانو کې یوه کس په نېغ ډول رشوت ورکړى و، چې تقریباً ۲۸سلنه افغانانو حتى د دولتي خدماتو د ترلاسه کولو لپاره هم رشوت ورکړى و، د همدې څېړنې له مخې هر افغان په اوسط ډول تقریباً ۷۷٦۹ افغانۍ رشوت ورکړى او په مجموعي توګه یو مېلیارد ډالره رشوت ورکړل شوى و.

**درېیمه سروې:** د ۲۰۱۲ کال د سروې له مخې افغانانو ۱.۲۵مېلیارده ډالره رشوت ورکړى و، چې د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۱٦سلنه ډېروالى ښیي. په دې سروې کې هم پولیس او عدلي ارګانونه تر ټولو فاسدې اداري ګڼل شوې وې.

**څلورمه سروې:** د ۲۰۱۴ کال سروې له مخې فساد له ناامنۍ وروسته د افغانستان دویمه لویه ستونزه ده. په تېرو څلورو کلونو کې رشوت نږدې دوه برابره زیات شوى او په کلني ډول دوه ملیارده ډالرو ته رسېدلى دى. د دغې سروې له مخې عدلي او قضایي ارګانونه او پولیس تر ټولو ډېر په فساد کې ښکېل دي. ترڅنګ یې په هېواد کې په پراخه کچه دا باور زیات شوى، چې د رشوت په ورکړې سره کارونه ښه ترسره کېږي.

له پورته څلورو سروې ګانو، چې په جدول کې په خلاصه ډول راوړل شوې دي، څرګندېږي چې په هېواد کې د اداري فساد کچه ورځ تر بلې لوړېږي، چې له پالیسي جوړوونکو څخه د اغېزناکو تګلارو د جوړولو غوښتونکې ده.

[6] The vicious circle of buying and selling positions. See Afghans' Experience of Corruption a Report by Integrity Watch Afghanistan.

## له فساد سره د مبارزې او بشري حقونو نړیوالې ورځې:

په ټوله نړۍ کې د دسامبر ۹مه او ۱۰مه له فساد سره د مبارزې او د بشري حقونو ورځې ونمانځل شوې. اداري فساد او بشري حقونه له یو بل سره تر ډېره تړلي مفاهیم دي. لکه چې مخکې وویل شول، چې اداري فساد د هېوادوالو بشري حقونه ځپي، دا په دې معنا ده چې اداري فساد د دوی په اړه د باانصافه پرېکړې په تړاو خنډونه جوړوي.

د بشري حقونو د نړېوالې اعلامیې د ۱۰مې مادې له مخې هر څوک مساوي حق لري، چې په خپلواکه او ناپېیله قضا کې د ځان په اړه سپیناوی او له ځانه دفاع وکړي[7]. خو که چیرې د هېواد قضایي او د پولیسو ارگانونه په فساد کې تر ټولو زیات ښکېل وي[8]، نو بیا به یو څوک څرنگه له ځانه نه یوازې دا چې دفاع وکړي، بلکې څرنگه به ځان له یوې بې انصافه پرېکړې څخه هم وژغوري؟

د دې ترڅنگ له فساد سره د مبارزې په نړیواله ورځ د افغانستان د روڼتیا څار اداري وویل، چې په روان کال کې په افغانستان کې ۱.۲ملیارده ډالره رشوت ورکړل شوی دی، او د دې ترڅنگ ۱.۲ملیون ابکړه (انگریزي جرېبه) ځمکه د زورواکانو له خوا په ناقانوني ډول نیول شوې ده. په دغو ۱.۲ ملیارده ډالرو کې هغه رشوت هم شامل دی، چې د دولتي خدماتو د ترلاسه کولو په موخه ورکړل شوی[9]، او د ځمکو د غاصبینو له خوا د ډېرو خلکو ځمکې په زوره نیول هم د دوی د حقوقو برملا ځپل دي.

د اداري فساد پر ضد مبارزه د بشري حقونو د خوندیتوب په لاره کې هم رغنده رول لوبولی شي او که امنیتي او قضایي ارگانونه له اداري فساد څخه پاک شي، نو د هېوادوالو ډېری بشري حقونه هم خوندي کېدای شي.

---

[7] د بشري حقونو نړېواله اعلامیه، لسمه ماده. په لاندې لینک کې یې ولولئ:

/http://www.un.org/en/documents/udhr

[8] د افغانستان د روڼتیا څار اداري د تېرو څلورو سروې گانو څخه جوته ده چې په افغانستان کې تر ټولو زیات د قضا او پولیسو ارگانونه ښکېل دي. د دغې اداري د ۲۰۰۷، ۲۰۱۰، ۲۰۱۲ او د ۲۰۱۴ کال سروې گانې د دوی په ویب پاڼه کې په لاندې لینک وگورئ:

http://www.iwaweb.org/ncs/index.html

[9] د افغانستان د روڼتیا څار اداري د ۲۰۱۴ کال سروې له مخې د فساد له کبله ۲۸سلنه خلک د بریښنا، ۱۸سلنه خلک د لوړو زده کړو، ۱۷سلنه په محکمو کې له انصافه، ۱٦سلنه خلک د پولیسو لخوا د امنیت له کبله محروم شوې دي. دلته یې ولولئ:

http://www.iwaweb.org/ncs/_2014/key_findings.html

## د فساد پر ضد د اشرف غني کړنلاره:

که څه هم اشرف غني د لندن له کنفرانس څخه مخکې د اداري فساد پر ضد خپله کړنلاره سمه نه وه روښانه کړې؛ خو یوازې د کابل بانک د قضیې پر خلاصولو یې په سرِ کال کې افغانستان د تر ټولو زیات فاسد هېواد له بدنامۍ وژغوره او څلورم مقام ته یې راټیټ کړ.

ولسمشر د لندن په کنفرانس کې نړیوالو بسپنه ورکوونکو هېوادونو ته ډاډګیرنه ورکړه، چې د اداري فساد پر ضد به عملي ګامونه پورته کوي. د افغانستان د تحلیلګرانو شبکې[10] ته د اشرف غني د اصلاحاتو څېړنیزه مقاله رسېدلې، چې له مخې به یې ښاغلی غني د اداري فساد پر ضد دا ډول ګامونه پورته کوي:

- د اداري فساد پر ضد به خپلواک ماموریت، چې محدود وخت او د پلي کولو واک به ولري، جوړوي.
- د پلټنې په عالي اداره کې به اصلاحات راولي.
- د تهیې ملي هیأت یا (national procurement board) جوړول چې لوی قراردادونه به اداره کوي، ترڅو افغانستان د فساد له لویې کچې څخه وژغوري.[11]

## د کابل بانک قضیه:

کابل بانک چې په ۲۰۰۴ کال کې د شېرخان فرنود په لاس تأسیس شوی و، په ۲۰۱۰ کال د سقوط له ویرې د افغانستان د مرکزي بانک له خوا واخستل شو. ویل کېږي چې د کابل بانک په قضیه کې تقریباً یو ملیارد ډالره ورک وو، چې وروسته د کابل بانک د قضیې ډېری کسان ونیول هم شول او نور چې بانفوذه کسان وو، له دغو نیولو مستثنا شول.

اشرف غني له خپل راتګ سره د کابل بانک دوسیه بیا پرانېستله، څو د اداري فساد پر ضد نورو ته خپل دریځ روښانه کړي. د دسامبر په ۴مه د افغانستان ستري محکمې د یوې نهایي پرېکړې له مخې شېرخان فرنود او خلیل الله فیروزي، چې د کابل بانک رئیس او معاون دي، هر یو د لسو کلونو لپاره په بند محکوم کړل او د ستري محکمې د پریکړې له مخې دواړه د پنځه سوه ملیونو ډالرو په ورکولو هم مکلف دي. د ستري محکمې د پرېکړې له مخې باید د نورو مقروضینو

---

[10] Afghanistan analyst network

[11] Christine Roehrs, Return of the Goodwill? London Conference as symbol of a new start, 1 december 2014, see online https://www.afghanistan-analysts.org/return-of-the-good-will-london-conference-as-symbol-for-a-new-start/

لکه د محمود کرزي، عبدالغفار داوي او حسین فهیم ملکیتونه تر هغه پورې منجمد شي، څو چې دوی بېرته پیسې نه وي سپارلې[12]. تر اوسه تقریباً ۱۲ ملیون ډالره بېرته ترلاسه شوي، خو ډېرې پیسې اوس هم لادرکه دي.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت له مخې د انترپول په مرسته یې د کابل بانک قضیې د تښتېدلو ادرسونه موندلي دي[13]، خو لا د دوی د نیولو په اړه کوم عملي گامونه نه دي پورته شوي. مگر یوازې د متهمو کسانو په نیولو سره به دغه قضیه حل نشي، بلکې دغه قضیه به هغه مهال حل شي، څو د دې قضیې له مقروضینو څخه پیسې بېرته واخستل شي.

## حل لارې:

- که څه هم د کابل بانک قضیه د افغانستان د بانکي تاریخ تر ټولو لوی تقلب دی؛ مگر د دې قضیې په حل کولو سره به په افغانستان کې اداري فساد ختم نشي، بلکې کچه به یې تر یو څه حده راکمه خامخا شي؛ خو بیا به هم د اداري فساد د کچې د راکمولو او ختمولو لپاره اړین وي، چې په قضاء او پولیسو کې مختلف اصلاحات پلي کړای شي، ځکه د افغانستان د روښتیا څار اداري د تېرو څلورو څېړنو له مخې دغه دوه ادارې یا سکتورونه په فساد کې تر ټولو زیاتې ښکېل بللې دي.
- د نړۍ ډېرې پالیسي جوړوونکي د اداري فساد پر ضد لومړی گام شفافیت بولي. په همدې تړاو دوی پخپلو هېوادونو کې نه یوازې دا چې معلوماتو ته د لاسرسي قانونونو وړاندیزونه کوي، بلکې د موجوده قوانینو د تعدیلاتو لپاره هم اوازونه پورته کوي. که څه هم د افغانستان په پارلمان کې د معلوماتو د لاسرسي قانون له ډېر ځنډ وروسته راوړاندې او بیا تصویب شو؛ خو اوس هم په دغه قانون کې داسې څه شته دي، چې بیا تعدیل ته اړتیا لري. د بېلگې په توگه ملي امنیت، ملي گټې او نورې ټرمینالوژۍ او اصطلاحات پکې په سمه توگه نه دي تعریف شوي[14].

---

[12] ستره محکمه، فیصله نهایی اش را در رابطه به قضیه کابل بانک ابلاغ کرد، آزادي راديو، ۱۳-۹-۱۳۹۳، پرلیکه بڼه یې وگورئ:

http://da.azadiradio.org/content/article/26724552.html

[13] ویسا ورځپاڼه، د ۲۰۱۴ کال د دسمبر ۸مه نېټه، ۲۳۴۸مه گڼه

[14] په دې اړه ولولئ:

http://iwaweb.org/_news/news0020_signing_ati_law_by_afg_president.html

- هر هغه څوک چې قدرت ولري، باید د خپلې سرمایې په ښودلو سره مکلف وي، یا دې د دولتي کارکوونکو شتمنۍ په ځانګړې توګه د هغو کسانو شتمنۍ ثبت او نشر شي، چې په وظیفوي فساد کې ښکېل وي.
- د اداري فساد پر ضد یوه خپلواکه او اغېزناکه اداره رامنځته شي.
- اوسمهال چې کابینه نه ده اعلان شوې، ښه فرصت دی، چې کابینې ته داسې کسان ونومول شي، چې نه یوازې دا چې ښه کاري تجربه ولري، بلکې په اداري فساد کې هم ښکېل نه وي.

# امریکا؛ جنگ و معیارهای دوگانه

## تحلیلی از سپردن لطیف الله محسود به پاکستان



روابط میان افغانستان و پاکستان بخصوص بعد از سقوط رژیم طالبان شکل پیچیده‌ای بخود گرفته است، به حدی که حامدکرزی رئیس جمهور قبلی در طول سیزده سال نتوانست به اهداف اصلی پاکستان در مورد افغانستان پی ببرد و به نظر می‌رسد که این میراث به دولت وحدت ملی نیز رسیده است.

دلیل این پیچیدگی و عدم درک درست از اهداف پاکستان در مورد افغانستان این است که اهداف پاکستان و امریکا در مورد افغانستان در مواردی باهم هماهنگ و در مواردی با هم در اختلاف است. از سوی دیگر، موارد هماهنگ با اهداف پاکستان در سیاست امریکا، تنها به جغرافیای افغانستان در کوتاه‌مدت منحصر نیست بلکه با سیاست‌های کلان و طولانی‌مدت امریکا در این منطقه نیز رابطه می‌گیرد. به همین دلیل امریکا گاهی بصورت تاکتیکی، موارد نامتقارن با اهداف خود در سیاست پاکستان را کاملا نادیده می‌گیرد به حدی که مسایل حتی از نظر رهبری چون حامدکرزی که سیزده سال با امریکا در تعامل نزدیک بود چنان نامشخص به نظر می‌رسید که کار به اختلاف ومشاجره با امریکا کشید. در قرارداد امنیتی افغانستان با امریکا نیز، امریکا بشکل ماهرانه‌ای از هرگونه تعهدی که این کشور را در تضاد با پاکستان قرار دهد، شانه خالی کرده است.

## افغانستان میدان بازی است نه شریک بازی:

پاکستان را می‌توان شریک بازی امریکا و افغانستان را میدان بازی این کشور دانست. در این رابطه مثال‌های زیادی می‌توان ارائه نمود اما یکی از این موارد، هماهنگی سیاست‌های امریکا و پاکستان در جهت ممانعت از پیشرفت در پروسۀ صلح افغانستان است.

امریکا بعد ده سال جنگ در سال ۲۰۱۰ به این نتیجه رسید که باید آدرسی برای تماس با طالبان داشته باشد. سرانجام این فرصت مساعد شد و طالبان پذیرفتند تا در قطر دفتری به منظور تماس با جهان خارج داشته باشند تا اگر شرایط مساعد گردد، همین دفتر مرجعی برای آغاز مذاکرات صلح باشد.

پاکستان که با این اقدام امریکا مخالف بود و نمی‌خواست هیچ ابتکاری از بیرون از دسترس این کشور باشد، ملا برادر شخص دوم در تحریک طالبان را دستگیر کرد. این کار طوری صورت گرفت که نیروهای امریکایی و پاکستانی هردو در دستگیری وی شریک بودند. در آن زمان دولت افغانستان اعلام داشت که ملابرادر به این دلیل دستگیر گردید که با دولت افغانستان در تماس بود و تمایل به صلح داشت.

اگر این حرف مقامات افغان درست بود پس می‌توان گفت که امریکا هم نمی‌خواست تا پاکستان در مذاکرات با طالبان کنار نهاده شود و به همین دلیل در مخالفت با پروسۀ قطر، ملابرادر را که مبتکر این کار بود، دستگیر کرد.

اگر امریکا خواهان صلح در افغانستان می‌بود باید از پروسۀ قطر در برابر فشارهای پاکستان حمایت می‌کرد اما این کار را نکرد بلکه برعکس پروسه‌ای را که خود بمیان آورده بود در برابر تخریب کاری‌های پاکستان تنها گذاشت. پس می‌بینیم که تنها دولت افغانستان نیست که در مورد اهداف امریکا دچار سردرگمی است، طالبان هم که در ابتدا گمان برده بودند امریکا خواهان صلح در افغانستان است، بعد از آمدن اعضای دفتر سیاسی شان به قطر، با بازی دوگانۀ امریکا مواجه شدند و به همین دلیل هیچ تماس جدی میان دوطرف ممکن نشد. آخرین بخش این سناریو دستگیری انس حقانی بود که موجب قطع تماس‌های طالبان و امریکا گردید و اکنون طالبان در مذاکره با امریکا یک پیش شرط جدید دارند؛ امریکا قبل از هر مذاکره با طالبان، باید انس حقانی را رها سازد. حتی اگر امریکا هم بخواهد مذاکرات صلح با طالبان را سامان دهد، زمان طولانی لازم است تا در ابتدا این مانع از سر راه برداشته شود.

## لطیف الله محسود چگونه ربوده شد؟

نشانۀ دیگر بازی دوگانۀ امریکا در ماجرای لطیف الله محسود دیده می‌شود. در ماه اکتوبر سال گذشته (۲۰۱۳) لطیف الله محسود معاون حکیم الله محسود رهبر پیشین طالبان پاکستان در ولایت لوگر زمانی از جانب نیروهای امریکایی ربوده شد که بعد از دیدار با ارسلا جمال والی این ولایت از طرف افرادی از امنیت ملی افغانستان همراهی می‌شد. امریکایی‌ها او را به آن بخش از زندان بگرام که در کنترول خودشان است منتقل ساختند.

سخنگوی ریاست جمهوری افغانستان افشا نمود که لطیف الله محسود از قبل با امنیت ملی افغانستان رابطه داشته است. بنابراین مسئله واضح بود؛ پاکستان که از قبل مدعی بود تحریک طالبان پاکستان از طریق افغانستان با هندوستان رابطه دارد، با دستگیری لطیف الله محسود توسط امریکایی‌ها قدرت خود را حتی در داخل افغانستان به رخ دولت‌های افغانستان و هندوستان کشید.

## وقایع بعد از این دستگیری:

اندکی بعد از ربوده شدن لطیف الله محسود بدست امریکایی‌ها، ارسلاجمال والی لوگر در اول عید در یک مسجد بشکل بسیار دقیق و سازمان‌یافته مورد سوء قصد قرار گرفت و کشته شد و هیچکس هم مسؤولیت این اقدام را بعهده نگرفت. این مؤثرترین قدرت نمایی بود که پاکستان انجام داد.

یک ماه بعد از ربوده شدن لطیف الله محسود در اول نوامبر ۲۰۱۳، حکیم الله محسود رهبر طالبان پاکستان در حملۀ یک طیارۀ بی‌پیلوت امریکایی در وزیرستان شمالی کشته شد. شکی نیست که لطیف الله بدون اجازۀ حکیم الله محسود با دولت افغانستان در تماس نشده بود. کشته شدن وی شاید در نتیجۀ اطلاعاتی بود که امریکا از لطیف الله محسود بدست آورده بود و انتقام پاکستان گرفته شد.

تردیدی وجود ندارد که وقتی لطیف الله به افغانستان آمد، آی اس آی از این سفر آگاه بود و زیاد امکان دارد که این اطلاعات را یکی از مقامات افغان که از جریانات اطلاع داشت به اطلاع آی اس آی رسانیده باشد و آی اس آی نیز از طریق سی آی ای اقدام به دستگیری وی نمود.

نتیجۀ دستگیر شدن لطیف الله این بود که رهبران دیگر طالبان پاکستانی حتی اگر تمایلی هم به رابطه با حکومت افغانستان داشتند، جرئت این کار را از دست دادند و به این نتیجه رسیدند که آی اس آی از همکاری کامل امریکا برخوردار است و حکومت افغانستان هیچ حاکمیتی بر کشور خود ندارد.

دستگیری این شخص توسط امریکایی‌ها به این دلیل صورت گرفت که امریکا نمی‌خواست افغانستان با کمک به طالبان پاکستانی، موقف بهتری در برابر پاکستان بدست آورد.

## نتیجهٔ سپردن لطیف الله محسود به پاکستان:

امریکا با سپردن لطیف الله محسود به پاکستان، به مقامات پاکستانی این امکان را فراهم کرد تا با استفاده از اطلاعاتی که از وی بدست می‌آورند، کسانی را که در داخل تحریک طالبان پاکستان با مقامات افغان در تماس اند شناسایی نموده و در صورت امکان آنها را یا دستگیر نموده و یا بکشند.

به گفتهٔ مقامات افغان، لطیف الله محسود در دسترس آنان نبود و در مورد سپردن او و دو نفر دیگر از طالبان بنام‌های جعفر و عزیز عرفات به پاکستان تحقیق می‌کنند. اعتراف به این مسئله که دولت افغانستان در جریان سپردن این افراد از جانب امریکا به پاکستان نبوده است نمایانگر این حقیقت است که علی الرغم امضای قرارداد امنیتی میان امریکا و افغانستان و تعهد امریکا به احترام به حاکمیت ملی افغانستان، امریکا به این تعهد اصلا پابند نیست.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل:info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (93+)